ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصـــادي او ټـولنيـزو مسايلـــو
په بـرخــه کــې د رياست الوزراء
اقتصـــادي معاونيــت خــبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه 10

نېټه: ۱۴۴۵ هـ . ق کال، د محرم ۱۱ مه، شنبه




## سرليکنه




د افغانستان، پاکســـتان او ازبيکستان هېوادونو د اوســـپنې پټلۍ د لوړ رتبه مسوولينو ترمنځ په درې اړخيزه ناســـته کې د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې پر مســـير چې له مزار شريف څخه پيل او د پکتيا ولايت تر خرلاخي بندر پورې غځېدلې، هوکړه وشــــوه. د يادې پروژې د پرمخ بېولو له پاره يو کلن پلان هم لاسليک شوی چې له مخې به يې يو نړيوال مشورتي شرکت د يادې پروژې اړين معلومات چمتو کوي، څو دغه معلومات له هېوادونو او نړيوالو مالي بنســـټونو سره شريک شي او پر اساس يې نړيوال بنسټونه او هېوادونه دې ته وهڅول شي چې پر دې مهمه ترانزيټي پروژه پانګونه وکړي.

په دې وروستيو لسيزو کې د هېوادونو د اقتصادي ودې، د توليـــد او ســـوداګرۍ په زياتـــوالي سره د ترانزيټ برخې اهميت زيات شوی دی. ترانزيټ په اقتصـــاد کې يوه مهمه برخه ده او نن ورځ د نړۍ له ګټورو سوداګريزو سرچينو څخه بلل کېږي. له دې پلوه ترلاسه شــويو عوايدو هېوادونه دې ته هڅولي دي چـــې په دې برخه کې ســـيالي وکړي او ددې برخې له پاره ټولې اړينې اسانتياوې چمتو کړي. خو امنيت، جغرافيايـــي موقعيت هغه مهم لاملونه دي چې کولای شي دغې برخې ته د پراختيا زمينه برابره کړي.

افغانستان دا مهال له پورتنيو دوو مهمو لاملونو څخه چې امنيت او جغرافيايي موقعيت دی، په بشپړ ډول برخمن دی. اســـلامي امارت ديته په پاملرنې سره هڅه پيل کړې ده، ترانزيټ ته چې د ســـوداګرۍ په پراختيا او د عوايدو د کچې په لوړېدو کې مهم رول لري، اسانتياوې برابرې او زيربناوې جوړې کړي چې افغان ټرانس د اوسپنې پټلۍ يې ښه مثال دی.

دغه راز اسلامي امارت په خپل شاوخوا دوه کلن مزل کې د افغانســـتان د ترانزيټي لارو او دغه راز د رېل پټلۍ په برخه کې زياتې لاسته راوړنې درلودلې دي. دا مهـــال افغانســـتان د مـــزار شريف لـــه لارې د ازبيکســـتان ترمذ، د فارياب د آقينې بندر له لارې ترکمنســـتان او د هرات د اسلام کلا او تور غونډۍ بندرونو له لارې له ايران سره نښلول شوی دی. ددې ترڅنګ دادی اوس د افغان ټرانس رېل پټلۍ پروژې د عملي کېدو هلې ځلـــې او دا څه موده وړاندې د رياســـت الـــوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو او کابل-کندهار لويو لارو د بيارغونې چارو پيلول ټول هغه څه دي چې له مخې به يې ترانزيټ پراختيا ومومي.

د افغان ټرانس د اوسپنې پټلۍ پروژې چې په اوسط ډول به په کال کې ۱۵ ميليونه ټنه سوداګريز توکي پرې ليږدول کيږي، عملي کېدو سره به له يوه لوري مرکزي آسيا او سويلي آسيا سره ونښلول شي او له بل لوري به افغانســـتان خپل ســـوداګريز او صادراتي توکي منځنۍ آسيا او ســـويلي آسيا هېوادونو ته په ټيټه بيه انتقال کړي او همدارنګه به له دغو هېوادونو څخه د اړتيـــا وړ توکي په کمه بيه وارد کړي چې دا خپله د آسيا د اتصال پر نقطې د هېواد د بدلېدو، د عوايدو د زياتوالي، سوداګرۍ د پراختيا، اقتصادي ودې او د هېواد د پرمختګ او ترقۍ لامل ګرځي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په مشرۍ د اقتصادي کمېســـيون نوبتي غونډه ترسره شوه



د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخونـــد په مـــشرۍ د اقتصادي کمېســـيون نوبتي غونډه د روان لمريز کال د اســـد مياشـــتې په ۷مه نېټه د شـــنبې په ورځ په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره ســـم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

د اقتصادي کمېســـيون په ياده نوبتي غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ ماليې وزارت، کانونو او پټروليم وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او ملي پراختيا شرکت څخه جوړې شـــوې ګډې کمېټې ته دنده وســـپارل شـــوه، څو د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظـــه الله د حکم مطابـــق د کانونو په بدل کې د سرپل ولايت د ســـلطان ابراهيم بند او همدارنګه د ارزګان ولايت د چينارتو ولســـوالۍ اړوند د آغا جان بنـــد د جوړولو لپاره عملي تـــګلاره جوړه او د نهايي تصميم نيونې په موخه يې د اقتصادي کمېســـيون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. د سلطان ابراهيم او آغا جان بندونـــو د جوړولو قرارداد د ملي پراختيا شرکت سره شوی، چې په نږدې راتلونکي کې به يې چارې پيل شي.

همدارنګه په غونډه کې تر هر اړخيز بحث وروســـته پرېکړه وشوه، چې د فراه، هرات او نيمروز ولايتونو په

ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

بندرونو کې ترانشيپ بند دی او نفتي توکي به يوازې د ترانزيټ له لارې افغانستان ته وارديږي. د اقتصادي کمېسيون د پرېکړې پر اساس، افغان ترانسپورټي ټانکرونه کولای شي افغانستان ته د نفتي توکو ترانزيټ ترسره کړي.

د غونډې په پای کې د عدليې وزارت او د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست له لورې د عوايدو د زياتوالي او ښه مديريت په موخه جوړه شوې طرحه منظور شوه. په دغه طرحه کې د عدليې وزارت د شته عايداتي منابعو د بيا را ژوندي کولو لپاره تګلاره ترتيب شوې او همدا راز د دغه وزارت په چوکاټ کې ۱۴ نوي عايداتي منابع لټول شوي، چې له مخې به يې د عدليې وزارت په کلنيو عوايدو کې د پام وړ زياتوالی راشي.

# از شهر کابل تا اکنون ۳۷۷۴۱ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۳۷۷۴۱ گدا تا ۵ اسد سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملۀ گدایان جمع آوری شده ۱۳۶۹۵ زن ، ۶۰۹۰ مرد و بقیه ۱۷۹۵۶ اطفال می باشند. در میان این اطفال ۷۱ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسۀ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.







# اهمیت ترانسپورت و نگاهی بر پروژه خط آهن افغان ترانس



نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

برای ترانزیت و تجارت به بازسازی و اعمار شاهراه ها، شبکه های خط آهن، رنوی میدان های هوایی ضرورت است، زیرا بدون بازسازی زیربناهای ترانزیتی و مواصلاتی پیشرفت یک جامعه و یا کشور ناممکن است. امارت اسلامی با در نظر داشت نکات فوق می خواهد در پهلوی سایر زیربنا ها از شبکه های خط آهن استفاده مؤثر نماید و در حصۀ ایجاد شبکه های جدید آن اقدام نماید. آنها به این باور اند که افغانستان یک کشور محاط به خشکه است و به جز از مسیر خشکه و شبکه های خط آهن نمی تواند با کشور های همسایه و در مجموع با جهان روابط تجارتی خویش را تأمین و داد و ستد انجام دهد. افغانستان از طریق خط آهن نخست با کشور های همسایه و در قدم دوم با سایر کشور های جهان وصل خواهد شد. در افغانستان ایجاد شبکه های خط آهن یک مسئله جدید نیست بلکه در زمان زمامداری امیر امان الله خان در سال ۱۹۲۰م به وجود آمده است. اما تنها در حد یک نمونه باقیمانده و چیزی نبوده که افغانستان را به جهان وصل نماید و از آن به

مقاصد ترانزیتی استفاده صورت گرفته باشد. اما امارت اسلامی در این خصوص برخی طرح ها و پلان ها را روی دست گرفته است. تلاش بر آن است که از مجرای خط آهن ابتدا افغانستان با کشور های همسایه و منطقه وصل گردد. به این آرزومندی امارت اسلامی ضمن بازسازی و اعمار شاهراه ها، سرک ها و راه های موصلاتی دست به بازسازی و احداث شبکه های خط آهن زده که یکی از آن جمله امضای توافقنامه سه جانبه احداث مسیر خط آهن افغان-ترانس میان کشور های پاکستان ،ازبیکستان و افغانستان می باشد، که در نوشته حاضر پیرامون اهمیت سکتور ترانسپورت به ویژه ترانسپورت ریلی و نگاۀ گزرایی بر پروژه خط آهن افغان ترانس نکاتی غرض تسکین حس کنجاوی علاقمندان تهیه گردیده است.

## اهمیت سکتور ترانسپورت به ویژه خط آهن در رشد اقتصاد و عرضه خدمات

سکتور ترانسپورت و ترانزیت انسان ها و محصولات تجارتی، یکی از عوامل بسیار مهمی است که در هر عصر و در هر محدوده مکانی و زمانی در رشد و شکوفایی اقتصاد ملت ها و ایجاد رفاه اجتماعی مردم در جوامع مختلف، نقش عمده داشته است. در عصر حاضر انواع سیستم های ترانسپورتی و ترانزیتی وجود دارد. سیستم های ترانسپورت زمینی، خط آهن و هوایی از عمده ترین این سیستم ها هستند که فعلاً نقش عمده و اساسی در نقل و انتقالات انسان ها، محصولات و مواد مختلف را بر عهده دارند و انکشاف سیستم های ارتباطی و اطلاع رسانی و به وجود آمدن سیستم الکترونیکی در این عرصه که باعث تبادل اطلاعات در سطح بسیار بالا و در وقت و زمان کم شده است، بیش از پیش به توسعه بخش های مختلف حمل و نقل و ترانسپورت انجامیده است.در اقتصاد امروز نیز به بخش ترانسپورت حمل و نقل توجه خاصی صورت می گیرد و همواره سعی بر آن است تا از مناسب ترین سیستم حمل و نقل که از لحاظ اقتصادی به مصرف کم، از لحاظ زمانی در برگیرنده وقت کم و از لحاظ رفاه و آسایش دارای تجهیزات و امکانات مدرن برای راحتی هر چه بیشتر مسافرین و امنیت هر چه خوبتر مواد و لوازم انتقالی باشد، استفاده گردد. بناً اهمیت و نقش راه های مواصلاتی و سیستم های ترانسپورتی در افغانستان. در شرایطی که افغانستان محاط به خشکه است و از سوی دیگر نیز موقعیت جغرافیایی افغانستان به نحوی است که پیوند دهنده کشور ها و مناطق مختلف آسیا می باشد، احیا و انکشاف سیستم های ترانسپورتی به خصوص ترانسپورت خط آهن می تواند نقش مهمی را در رشد و توسعه اقتصاد و تجارت در کشور ما بازی کند. بخش حمل و نقل خط آهن با ویژگی های منحصر به فرد، از جمله حمل محصولات و لوازم با حجم و مصؤنیت بیشتر و تعرفه مناسب‌تر، نسبت به دیگر بخش های حمل و نقل جایگاه ویژه‌ای یافته است به گونه‌ای که شرایط و وضعیت خط آهن یکی از شاخص های مهم رشد و توسعه محسوب می گردد. بنابر این بررسی نقش و تأثیر احداث خطوط اصلی راه آهن بر رشد ارزش اقتصادی افزوده بخش حمل و نقل ریلی کشور به منظور طراحی و ارائه تصویر واقعی آن در اقتصاد بزرگ و تدوین استراتیژی و برنامه های بلند مدت برای توسعه کشور، حائز اهمیت می باشد. افغانستان با داشتن منابع سرشار معدنی بخصوص آهن و مس هنوز هم از داشتن یک خط آهن که جواب گوی نیازمندی‌های حمل و نقل محصولات تجارتی و منابع معدنی باشد محروم است. همچنان کشور ما برای حمل و نقل اجناس وارداتی و صادراتی وابسته به راه‌های زمینی بوده، ولی نبود شبکه خط آهن باعث می‌شود که غیر اقتصادی و زمان‌گیر باشد.

با در نظرداشت این‌که افغانستان کشور محاط به خشکه است، فقدان خطوط آهن باعث کاهش رشد اقتصاد، تجارت و تولیدات معدنی، زراعتی و صنعتی می‌گردد و توانایی این کشور محاط به خشکه را برای رشد اقتصادی و اتصال به کشور های منطقه محدود می سازد.

شبکه خط آهن افغانستان فرصت مبادلات تجارتی را تقویه و باعث انکشاف و تحکیم اقتصاد ملی در کشور شده و منحیث یک عامل موثر ترانسپورتی و ترانزیتی باعث وصل آسیای مرکزی و آسیای جنوبی می‌شود و در نتیجه سبب کاهش فقر و ارتقاء سطح زنده گی مردم می گردد. رفت و آمد از طریق خط آهن یکی از عوامل مؤثر جهت تأمین امنیت بوده و در قسمت اشتغال زایی نیز مؤثر می‌باشد.



توافقنامه سه جانبه احداث پروژه ای خط آهن افغان ترانس میان کشور های افغانستان-پاکستان و ازبیکستان به امضاء رسیده است. این پروژه با اهمیت حیاتی که در رشد و توسعه اقتصادی و فرهنگی از رهگذر تجارت، ترانزیت، نزدیکی مناسبات فرهنگی و سیاسی طرف های زیدخل دارد. دال بر ارزش مادی و معنوی این پروژه است. برای تطبیق این پروژه مهم و بزرگ زیربنایی البته در داخل خاک افغانستان دو مسیر پیشنهاد گردیده بود، یکی (لوگر- تورخم) و دیگری لوگر – پکتیا. که بعد از سنجش دقیق و تفکر تخنیکی و مسلکی و نظر به تحلیل محیطی، در نظر گیری مصارف، مناسب بودن اراضی جهت تحقیق این پروژه حیاتی اعم از کوتاه بودن فاصله و غیره مسایل مبرم، اداره خط آهن، مقامات ذیصلاح به توافق رسیدند تا مسیر لوگر – پکتیا را ترجیح دهند. این مسیر با مزایایی که دارد، مورد پذیرش کشور های طرف توافقنامه بوده و مناسب ترین مسیر از لحاظ کم مصرف بودن بودجه، کوتاه بودن فاصله ، راه هموار و با فیصدی کمی از کوه های سنگ ریز، تپه ها، تأمین امنیت بهتر از لحاظ آفات طبیعی و سایر مزیت ها بوده که نظر به گزینه دومی (مسیر لوگر- ننگرهار – تورخم) ۱۲۶ کیلومتر کوتاه تر می باشد.

ادارۀ خط آهن افغانستان در اعلامیه‌ای گفته بود که این توافقنامه در پاکستان و ازبیکستان به امضا رسیده و قرار است که مسیر پروژه خط آهن افغان – ترانس از مزارشریف آغاز و الی بندر خرلاخی ولایت پکتیا در خاک افغانستان، به پاکستان عبور کند. به نقل از خبرنامه ادارۀ خط آهن، در این نشست، پلان یک‌ساله برای پیشبرد امور پروژۀ «افغان-ترانس» نیز منظور شده است. در خبرنامه آمده است که بر اساس این پلان، برای جلب سرمایه‌گذاری روی پروژۀ «افغان-ترانس» یکی از شرکت‌های مشورتی بین‌المللی درباره این پروژه معلومات گردآوری می کند و آن را با کشور های دخیل شریک می‌سازد.اداره خط آهن



افغانستان می گوید که در نشست اسلام‌آباد، اشتراک‌کننده گان تأکید کردند که باید مطالعات امکان‌سنجی تخنیکی و تفصیلی پروژه با دقت، کیفیت و سرعت انجام شود تا هرچه زودتر کار عملی آن آغاز گردد.این پروژه با عبور از خاک افغانستان، کشورهای آسیای مرکزی را با کشورهای جنوب آسیا وصل می‌کند. اداره خط آهن افغانستان نیز با نشر خبرنامۀ گفت است که کشورهای زیدخل توافقنامه، توافق کردند که خط آهن "افغان ترانس" در افغانستان ساخته شود که از شهر مزارشریف تا ساحۀ سرحدی خرلاخی ولایت پکتیا امتداد دارد.

در این خبرنامه آمده است: "در این نشست پلان یک ساله برای پیشبرد این پروژه امضا شد که بر اساس این پلان یک شرکت مشورتی بین‌المللی معلومات لازم را برای این پروژه آماده می کند".

اداره خط آهن امارت اسلامی می گوید که این معلومات از طرق مختلف در اختیار سایر کشورها و نهادهای مالی بین‌المللی قرار خواهد گرفت و بر این اساس نهادهای بین‌المللی و کشورها به سرمایه‌گذاری در این پروژه تشویق خواهند شد. قرار است که مطالعات امکان سنجی تخنیکی و تفصیلی، اجرای این پروژه را تایید کند و طبق برنامه‌ریزی این خط آهن از شهر ترمذ ازبیکستان شروع و با عبور از افغانستان از طریق ولایت پکتیا به شبکه خط آهن پاکستان متصل شود.در پروتوکول پروژه امضاء شده بین افغانستان، پاکستان و ازبیکستان آمده است که این خط خدمات مسافربری و باربری را تسهیل می‌کند و به "رشد تجارت و اقتصادی منطقه کمک خواهد کرد". قرار است که این پروژه تا سال ۲۰۲۷ تکمیل شود و تا ۲۰۳۰ میلادی سالانه به طور اوسط ۱۵ میلیون تن اجناس تجارتی را انتقال دهد. افغانستان در حال حاضر از طریق شهر مزارشریف به شبکه خط آهن ترمذ ازبیکستان و همچنان از طریق بندر آقینه ولایت فاریاب به ترکمنستان و از بنادر اسلام قلعه و تورغندی هرات به ایران و ترکمنستان متصل است.



### نتیجه گیری

بازسازی و احداث خط آهن در کشور را می توان اقدامی به سوی همکاری‌های اقتصادی و در نتیجه رشد و توسعه اقتصادی دانست که در دراز مدت می‌تواند از لحاظ اقتصادی، سیاسی و امنیتی به همگرایی منطقوی منجر گردد. خط آهن یکی از عمده ترین وسیله‌های حمل و نقل در جهان معاصر محسوب می‌شود، بنابر این می‌توان گفت که ساخت خط آهن در افغانستان تغییرات چشم‌گیری را در سیستم حمل و نقل به وجود خواهد آورد و فرصت انکشاف مناسبات اقتصادی، صادرات و واردات محصولات و لوازم را در داخل و خارج از کشور را رونق خواهد بخشید. به همین امیدواری امارت اسلامی با گزینش پالیسی اقتصاد محور توجه زیادی بر احیا و اعمار شاهراه ها، سرک ها، راه های مواصلاتی و به ویژه احداث خطوط آهن داشته زیرا از طریق ترانسپورت خط آهن به مصارف ناچیز نسبت به سایر بخش ها به هدف والای خود که همانا رشد و انکشاف اقتصادی، عرضه خدمات مؤثر برای اتباع کشور و در نهایت خودکفایی در همه ابعاد است نایل گردیم، که یکی از نمونه های بارز آن همین توافقنامه پروژه بزرگ زیربنایی است.

# افغانستان کې وروستي سیلابونه؛ ۱۲۰۰ کورنۍ بې سر پناه شوې دي

**لیکوال: امان‌الله حنیفي**

په هېواد کې د وروستیو سیلابونو له امله یوشمېر هېوادوالو ته د سر او مال درانه تلفات اوښتي. په تېره شاوخوا یوه اونۍ کې د هېواد په ۱۴ ولایتونو کې د شدیدو بارانونو له امله لوی سیلابونه راوتلي، چې له امله یې ۴۸ کسان مړه شوي، ۵۸ ټپیان دي او پر دې سربېره یې پراخ مالي زیانونه هم اړولي.

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وایي چې وروستیو سیلابونو تر ټولو درنه مرګژوبله او تاوان په میدان وردګو ولایت کې رسولي دي. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، د وروستیو سیلابونو راوتلو له امله د میدان وردګو ولایت په مرکز میدان او دې سربېره جلریز، نرخ، جغتو، چک او سیدآباد ولسوالیو کې ۳۲ تنه مړه شوي، ۲٦ تنه ټپیان او له ۴۰۰ ډېرو کورونو ته زیانونه اوښتي دي.

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د معلوماتو له مخې، په میدان وردګو ولایت کې وروستیو سیلابونو سلګونه جریبه کرنیزې ځمکې هم له منځه وړې او ځینو ولسوالیو ته غځېدلې لارې هم د خلکو پر مخ تړل شوې دي.

وروستیو سیلابونو د کابل ولایت په ارغندی سیمه کې هم یوشمېر هېوادوالو ته ځاني او مالي تاوانونه رسولي دي. د دې سیمې اوسېدونکي وایي، د وروستیو سیلابونو له امله یې لسګونو فابریکو ته زیان رسېدلی، کروندې یې تر خاورو لاندې شوې، یوشمېر کورونه یې ویجاړ شوي او پر دې سربېره ۸ کسان مړه شوي او ځینې نور بیا ټپیان دي. په پروان ولایت کې هم وروستیو سیلابونو ۹ کسان وژلي، یو ټپي دی او لسګونه جریبه کرنیزې ځمکې او میوه لرونکي باغونه له منځه تللي.

پر کابل او میدان وردګو سربېره لوګر، پروان، لغمان، خوست، پکتیا، غزني، ننګرهار، کونړ، بدخشان، پکتیکا او نورستان کې هم د وروستیو سیلابونو له امله یوشمېر هېوادوالو ته ځاني او مالي تلفات رسېدلي، چې د معلوماتو له مخې، ۷۹۹۲ زره جریبه کرنیزو ځمکو حاصلات او لسګونه جریبه میوه لرونکي باغونه له منځه تللي، ٦۸٦ څاروي تلف شوي او شاوخوا ۱۲۰۰ کورونه په بشپړ او نیمه ډول ویجاړ شوي دي.

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وایي، په وخت یې ژغورونکي ټیمونه سیلاب ځپلو سیمو ته رسېدلي، د مړو شوو کسانو له کورنیو سره نقدي مرستې شوي او ټپیان روغتونونو ته انتقال شوي. همدا راز یې زیانمنو شوو هېوادوالو ته د خوراکي توکو، جامو، خېمو، البسې او درملو مرستې هم رسولې دي او هغوی ته یې د اوسېدو لپاره یوشمېر کمپونه هم جوړ کړي. پر افغان دولت سربېره ځینو کورنیو او نړیوالو خیریه موسسو هم سیلاب ځپلو سیمو ته خپل ټیمونه لېږلي او هلته یې له زیانمنو شوو هېوادوالو سره د بېلابېلو توکو مرستې کړې دي.

په تېرو څو اونیو کې سیمه او افغانستان په تېره بیا د افغانستان مرکزي ولایتونه سختو سیلابونو وځپل. د ژغورنې نړیواله کمېټه وایي د سختو بارانونو له کبله دغه سیلابونه چې د اقلیم بدلون یې د لا ډېروالي لامل دی، په ټوله سیمه کې د پراخو ورانیو لامل شوي او تر نورو ډېر زیان یې افغانستان ته رسېدلی. دې اداري ویلي چې په افغانستان کې د وروستیو سیلابونو له امله له زیانمنو شوو افغانانو سره خپلې مرستندویه چارې ګړندۍ کوي او پر نړیوالو مرستندویانو هم غږ کوي، چې د اقلیم بدلون اړوندو مالي بسپنو کې ډېر زیانمن شوي هېوادونه هېر نه کړي.





# Under the leadership of the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the regular meeting of the Economic Commission was held at Marmarin Palace



On July 29, 2023, the regular meeting of the Economic Commission was convened at Marmarin Palace under the leadership of the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund. During this meeting, various pertinent topics were discussed in accordance with the agenda.

Under the guidance of the Ministry of Water and Energy, the Economic Commission entrusted a joint committee comprising representatives from the Ministry of Finance, Ministry of Mines and Petroleum, Ministry of Industry and Commerce, and the National Development Corporation. Their task, in line with the decree of His Excellency Amir Ul Mo'mineen, is to formulate a practical strategy for the construction of Sultan Ibrahim Dam in Sar-e-Pul province and Agha Jan Dam in Chinarto district of Uruzgan, utilizing mines as a resource. This strategy will be presented in the next Economic Commission meeting for the final decision. The contracts for the construction of these dams have been signed with the National Development Corporation, and the projects are scheduled to commence shortly.

Additionally, after thorough deliberation, the meeting decided to close transshipment in the ports of Farah, Herat, and Nimroz provinces. Henceforth, petroleum products will only be imported to Afghanistan through transit. Based on the Economic Commission's decision, Afghan transport tankers will also be authorized to transit oil products into Afghanistan.

Furthermore, the Ministry of Justice and the Department of Revenue of the Ministry of Finance presented a plan focused on increasing revenue and implementing effective management practices. The plan entails revitalizing existing sources of income for the Ministry of Justice and exploring 14 new revenue streams within its framework. This comprehensive strategy is expected to significantly boost the annual income of the Ministry of Justice.

